SHARIAT DAILY
ورځپانه
شریعت
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال۷٦ګڼه پرله پسې (٤٥٦) یکشنبه د۱٤۲۲ هـ ق کال د رجب المرجب (۲۷) د ۱۳۸۰هـ ش کال د میزان (۲۲) د ۲۰۰۱ میلادی کال داکتوبر (۱٤)

الهی فرمان

ترجمه: تاوانه لیدل چی ستارب په عادبانو باندی څه وکړل (دخپل دېر طاقت سره سره یې هلاک کړل)

جهادی قوماندانان:

امریکاغواړی په سیمه او نړی کی داسامه په نامه خپل هدفونه عملی کړی

کابل - باختر:

زمونږ په زرګونو تنو هیواوالو پرون دهیواد په مرکز او ولایتونو کی دپراخو غونډو او مظاهرو په کولو سره په افغانستان باندی دامریکا او دهغه دمتحدینو دبرغلګرو پوځونو وحشیانه بریدونه وغندل.

دمظاهره او غونډوګډون کوونکو دالله اکبر او مرده دی وی امریکا او انګلستان په نعرو سره دافغانستان له اسلامی امارت سره خپل بشپړ پیوستون او ملاتړ اعلام کړ او زیاته یی کړه: دافغانستان خلک لکه دخپلو نیکونو په شان دبرغلګرو په وړاندی دسر او مال په ورکولو سره له خپلی لویشت لویشت خاوری او له اسلامی اوملی ارزښتونو څخه دفاع کوی او دامریکا یی او انګلستانی برغلګرو پرضد په مقدس جهاد کی هرډول قربانی ورکولو ته تیاردی.

په دغوغونډو اومظاهروکی یو شمیر عالمانو قومی مشرانو

٤مخ

ازاثرپرتاب یک بم

۲۰۰ منزل درکابل تخریب شد

کابل - شریعت:

یك بم که تقریباً ۵۰۰ متر دورتراز خط رنوی در ساحه دوسرکه میدان هوائی کابل پرتاب شده بود ٦ حویلی را کاملاً ویران وحدود ۲۰٪ منزل دیگر راقسماً تخریب نموده است.

خبرنگار روزنامه که از محل این حادثه دیدن نموده است چنین گزارش میدهد: بامدادشنبه سرك راست واسفالت شده دوسرکه میدان هوایی کابل را کراچی های چارتایره بندساخته بودکه بالای آنان بسته های از لحاف، دوشك، فرش و گلیم دیده میشد.

تعداد از مردان، زنان و بچه های قدونیم قد با چهره های وحشت زده ووارخطا ازخانه های خویش بیرون آمده وهمان حویلی راکه درآن بم فروریخته بود مایوسانه به تماشاگرفته بودند.

حیات الله مرد ٥٥ ساله درحالیکه سرو رویش آمیخته با گرد و خاك بود

ص٤



عکسونه: په کابل کی دامریکا او انګلستان دوحشیانه او ظالمانه هوایی بریدونو له امله وران شوی کورونه ښیی — دیوسف عکاسی

دډیلی په ښار کی مظاهره کوونکی:

پرافغانستان باندي برید دنړیوالو حقوقو څخه سترګي پټول دي

بهرنی خبری سرچینی - شریعت:

دهندوستان دډیلی دښار مسلمانانو او کینو ګوندونوهم ددغه هیواد په پایتخت دنوی ډیلی په ښارکی په جلاجلاډول مظاهری وکړی او پرافغانستان باندی دامریکا بریدونه یی وغندل.

مظاهره کوونکو پرافغانستان باندی بریددامریکا له خواد نړیوالو حقوقو څخه سترګی پټول او دافغانستان دخمکنی بشپړتیا څخه سرغړونه اعلام کړه دهندوستان نورښاروونه هم دامریکا پرضد دمسلمانانو داعتراضو نو شاهد و.دیوبل خبرله مخی:پرافغانستان ـ ـدی دامریکا بریدونه

٤مخ

حملات بزدلانه وجنایات نابخشودنی

کابل باز هم بمبار دمان شد

کابل- شریعت:

از اثر حملات وحشیانه و بزدلانه هوایی وراکتی امریکا و انگلیس دهاتن از هموطنان بیگناه ما شهید وزخمی شده ویکتعداد از منازل مسکونی وتاسیسات عام‌المنفعه‌اجتماعی‌وخدماتی تخریب گردیده‌است.

خبرنگار ما خبرداد: قوای متجاوزو جنایتکار

ص٤

بخاطر کمک به مصدومین حملات هوایی امریکا

یک کلینیک کمک های عاجل طبی درکابل ایجاد شد

کابل- شریعت:

موسسه خیریه CRF یک کلینیک کمک های عاجل طبی را در شفاخانه وزیراکبرخان ایجاد کرداین مطلب را محترم انجنیر ایوب الهرمزی رئیس ساحوی موسسه CRF درافغانستان

ص۲

په المان کی (٦۰) ټولنو په افغانستان دیرغل په ضد ګډی مظاهری وکړی

برلین:

پرون دافغانستان په اسلامی امارت باندی دامریکا او انګلستان دګډو پوځی عملیاتو پرضد د شپیتو سازمانونو او بیلابیلو ټولنو لخوا دالمان

٤ مخ

په اوسنیو سختو شرایطوکی

سنایی سیال ټولنی له افغانانو سره بیړنۍ مرستې پیل کړیدي

کابل - شریعت:

د«سنایی سیال»ټولنه هغه خیریه موسسه ده چی په بهرکی په هیواد مینو افغانانو یا IARF له خوا اکما لیری تومورری ټولنی پدی سختو ورځوکی یو شمیر بیوز لو افغانانو ته

۲مخ

سرمقاله

دلوی او ښیونکی خدای، په نامه

اسلامی کنفرانس ته به لاهم داسلامی نړی سترګی وی؟

کله چی افغانستان دامپریالیستی پراختیا غوښتنی دهوسونو ښکارشو او ددی خاوری مسلمان ملت له اسلامی وچی او اویوتربرید لاندی ونیول شو. دولس هیلی او امیدونه دسیاست په ظاهری دنیاکی له مایوسی سره مخ شول دګاونډیو اونورومسلمانو هیوادوڅخه ناهیلی کیناستل خو دوضعی په حساسیت سره چی داسلامی کنفرانس دجوړیدواو راتولیدوخبریقینی شو دخوړید لی او کړید لی ولس هیلی راژوند ی شوی او هیله مندشول چی ښایی اسلامی کانفرانس چی په نړی کی

۲مخ

دایران مظاهره کوونکی:

امریکا داسرائیلو له تروریزم څخه په ملاتړ له نړیوال تروریزم سره دمبارزی دواک حق نه لری

تهران:

دایران دحکومتی مظاهرو په پریکړه لیک کی دافغانستان په اسلامی امارت باندی دامریکا ـرخی بریدیو سازمان ورکړ شوی تروریستی اقدام بلل شویدی.

په پریکړه لیک کی ویل

٤ مخ

دامریکا دیرغل په وړاندی دنړیوالو غبرګون

بنګله دیش:

دبنګله دیش مسلمانوخلکو په افغانستان باندی دامریکا بریدونه وغندل اوددغه هیواد یو شمیر ځوانان دامریکا یی پوځونو په مقابل کی جهاد ته تیارشول.

دبنګله دیش مسلمانوخلکو دیو پیغام په ترځ کی چی دا سلامی

۲مخ

که لښکری درسره وی یک تنهایی!

ص۲

هیڅ زبرځواک دافغانانواسلامی هوډ په انسان وژونکووسلونه شی ځپلای

شــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هـ ش

:دلیکوال هینت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مــرستیال: مـلامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی گڼی بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

ټیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (۴۷۱)کابل افغانستان

جاری حساب : ۴۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز

کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

د نړۍ مستضعفو مسلمانانو دغمخوري په صفت یی بیست اېښودل شوی له دوی سره همغږی او یاښایی لږ ترلږه یې دمظلومیت او بی گناهی ملاتړی شی څرنگه چی نور دیر اسلامی هیوادونه دوخت ترازو ته په کتوسره داستکبارله غوښتنو مخ نه اړوی دغسی دغه کانفرانس هم له دغی اغیزمنتیاڅخه خالی پاتی نه دی او داد ځنه یوازی داچی دافغانستان مظلوم ملت یی چی په نه گناه دامریکا ترظلم او تیری لاندی راغلی همداسی په ځای پریښود بلکی دامریکا دغه تیری یی تائید هم کړ او یوازی یی په دی اکتفا و کړه چی عامو وگړوته دی یو څه پاملرنه وشی.

په قطرکی داسلامی کانفرانس دغړو هیوادونو دباندنیو چارو دوزیرانو دغه غونډه چی یو ناڅاپی راټول شوی و او د ټاکلی وخت له رارسیدو مخکی په ډیره بیړه بیرته تیت شول اسلامی نړی ته یو ازی داپیغام پریښو دچی نور داسازمان په حق رسیدلی او نه شی کولی په خپل وخت سره ددوی غم وخوړلی شی افغانستان چی ددغه سازمان غړی او یو اسلامی هیواد دی دټولی اسلامی نړی عامو مسلمانانو ته غږ کوی چی ددی خاوری له مسلمان ولس سره دنړیوال کفری استکبار په وړاندی همغږی شی او داسلام او اسلامی عقیدی دبقالپاره دیووالی تندی هڅی پیل کړی او دخپلو مقدساتو غم په خپله وخوری.

موږ په دی عقیده یو چی له دی هڅو نه په برپالی راوزو او لکه څنگه چی خپلی ایدیالوژی ته په کلکه متعهد یو دغسی به ددغو مشکلاتو په وړاندی مبارزه هم نه ستړی کیدونکی وی.

که لښکرې درسره وي يك تنهايي

پردین مین باتور افغان ولسه! داچی کفر استعمار تل دا هڅه کړی او کوی یی چی زموږ او ستاسو پرپاک او مقدس دین اسلام او دافغانستان پرپاکه خاوره او مینی ولس دخپلی کرغیړنی او مفسدی عقیدی برید ته لاره هواره کړی هر واری داخبانان نه یوازی داچی په خپله سزا رسیدلی بلکی ددی غیرتی ولس غابښ ماتوونکی گوزار لاتر اوسه ددوی دزړه داغ دی دادی یو ځل بیا دی وینه خوروونکی ښامار د خپل تپ درد هیر کړی او غواړی چی دخپلو ملحدو نیکونو دوصیت څخه سرغړونه وکړی دوی دخپلی غولوونکی تکنالوژی او پرمختللی تخنیک په اتکا په بی شرمی سره غواړی چی ددی مؤمن ولس په وړاندی یو ځل بیا خپلی ناکامی هڅی وازموېی ددوی په فکر چی

افغان ولس له پرمختللو وسایلو څخه بی برخی دی خو داخبره دوی هیره کړی چی غیرتی افغانان تر هرډول تکنالوژی او تخنیک الهی نصرت ته ترجیح ورکوی او دوی دی هم دخپلو تیرو تیروتنو څخه دځوم ځل لپاره تجربه واخلی دوی دی دسره ښامار (شوروی) څخه تجربه واخلی چی په څه ډول افغان او باتور ولس په خالی لاس د لوی خدای په توکل دومره درنه تاریخی او ډزوونکی ماته ورکړه چی خپل ملت لاځه اوس نوروته هم دخپلی ترخی ماتی وروسته پر افغان ولس دنه تیری مشوری ورکوی او همدارنگه دی دوی له انگریز څخه تجربه واخلی لکه څنگه چی په شلمه پیړی کی دری

ځلی د هرډول پوځی امکاناتو سربیره دافغان ولس په وړاندی په گونډ وشوی دی دا په اوس کفری نړی ته څرگنده شوی وی چی افغان ولس په هروخت او هرحالت کښی پرلوی خدای تکیه کړی او دخدای په بیشکه نصرت امید وار دی لکه یو شاعرچی وایی:

چی الله درسره مل نه وی رحمانه

که لښکری درسره وی یکتنهایی

غیرتی افغانانو ایا م چی دنړی په پوچو مغرضو او رادیویی تبلیغاتو خطا نه شی موږ او تاسو باید یو ځلی بیا دخپلو باشهامته او باتوره نیکونو کارنامی کفری نړی ته څرگندی کړو او دا باید په داگه او ډیره میړانه دوی ته ثابته کړو چی افغانان

اوس هم دخپلو اجدادو په څیرسره یو موټی او یو وږغ دی او دنړی دهرمستبدا واستکبار په وړاندی به دژوند تر اخری سلگی پوری په اسلامی او قرآنی جذباتو دخپل گران وطن دفاع کوی په دین او اسلام مینو افغانانو !داچی یوڅو تنه مغرض کسان دافغان دپاک نامه څخه په استفادی سره د ملحدینو خبیثی او غیر اسلامی عقیدی تعقیبوی او ددوی داغیر اسلامی عمل دنړی د پرمختگ او تمدن وسیله بولی او دافغانانو په سپیڅلو عقیدو او محمدی غراشریعت ترجیح ورکوی دالاسپوځی او گوډ اگیان چی دخپلو بادارانو کاسی ڼی تراخری بریده پوری څټلی او

دغلامی هاربی غاړی ته اچولی داقطعاً افغانان نه دی دادتیروروژیسونو وطن پلوروونکی دی چی اوس یو ځلی بیا پرشا تکول شوی او غیرتی افغانان به ددوی په تشو عدو هیڅکله تیر نه وزی درنو وطنوالو ! که چیری دملحدی امریکا برید په حقیقت واوښت ددی برید په مقابل کی پر موږ او تاسو فرض ده چی د خپلو اجدادو په څیر دخپل گران او ویاړلی افغانستان چی دتوری برم یی نړی او نړیوال هروخت په لړزه راوستی د ژوند تر اخری سلگی پوری ننگه او دفاع وکړو او داشعار یو ځلی بیا دکفری نړی په مغزو کی تازه کړو چی افغانستان په آسیاکی دزړه حیثیت لری هرڅوک چی ددی زړه ناارامی او ناقراری غواړی په خپله به دناارامی او ناکراری په لمبو کی وسوځی. **له ارادي څخه**

په اوسنیو سختو شرایطوکی ...

دمرستی لاس ورکړی زموږ خبریال په دی اړه داسی راپور راکوی،په لومړی سرکی مو دموسسی له مسؤل ښاغلی دادمحمد دلیلی نه ددوی دنویو مرستو په اړه وپوښتل چی داسی یی راته وویل:

موږ په تیرو څوورځوکی چی دامریکا هوایی حملی دافغانستان په خاوره پیل شویدی په څینو مستحقو کسانو ۵۰۰ بوجی سل کیلوئی او۵۰۰ تیمه پنځه کیلویی غوړی او ۱۵۰۰ کیلوگرامه بوره ویشلی او هیله شته په نیږدی څوورځو کی یو شمیر مرستی د IRRF لخوا موږته راورسیږی او موږیی په سرحدو کی په بی ځایه شویو مهاجرو وویشو.

زموږهمیشنی پروگرام چی په تعلیمی ، فنی او مرستندویی برخوکی کارکوو دوام لری لومړی له حج او او قافووزارت سره هغه قراردادی چی په لوگراو چهارآسیاب کی مود ۷۰۰۰ زده کوونکو مالی لگښت ورکاوچی دسږنی کال قراردادپای ته ورسید او په نوی کال کی به ورسره نوی قرارداد کوو،دوهم دکابل په دی سیمه بگرامیو اووه ناحیه کی د ۱۲۰۰ زده کوونکو مالی لگښت په غاړه اخستی چی تراوسه یی درسرنه دوام لری دیادونی وړده چی په غزنی ،هرات ، بادغیس او فراه کی هم زموږ ساحوی دفترله ۱۰۰۰تنو زده کوونکو او نورو بیوزلو خلکو سره په مرستو بوخت دی .

ښاغلی «دلیلی» داهم وویل چی موږتراوسه دقالینواو خیاطی په برخه کی ۱۰۵ تنه فنی کسان تولنی ته وړاندی کړیدی .

دیادونی وړده،زموږ موسسی دغزنی په رامک سیمه کی یومسجد او یوه کتابخانه چی ۹۰۰ ټوکه کتابونه په کی دمطالعی په خاطر ایښودل شوی دی جوړکړی دی د IRRF ټولنه هر کال خپلی دلوی اخترقربانی زموږ له لاری په بیوزلو افغانانو ویشی.

او په پای کی محترم دلیلی له SAFE، IRC او C O R A ، TROCAIRE ایرلند موسسو څخه مننه څرگنده کړه چی په دغو سختو شرایطوکی دغی مرستندویه ټولنی ته فندورکوی.

تر څوپه افغانستان کی زموږ تعلیمی پروگرامونه له دریدو سره مخامخ نه شی .

محمد رفیق

بخاطر کمک به ...

به خبرنگار ما گفته افزود :

موسسه خیریه CRF بخاطر خدمت به مردم شریف کابل وکمک به مصدومین حملات هوایی امریکا یک کلینیک عاجل کمک های طبی را به ظرفیت ۲۴ بستر درکابل وولسوالی های نزدیک آن ایجاد نموده که تاحال ده تن از هموطنان ما که در اثر حملات راکتی امریکا بالای کشور ماشدیداً زخمی شده اند تحت تداوی قرارگرفته اند.

محترم انجنیر ایوب افزود : درایــن کلینیک شش تن از پرسونل طبی که سه تن آنرا اناث تشکیل میدهند درپهلوی یک تیم ده نفری از خارجیان وظایف انسانی خویش را به پیش میبرندکه در این کلینیک پنج عراده امبولانس ۲۴ ساعت در خدمت هموطنان قرارداده شده است.

باید یادآورشدکه موسسات غیر حکومتی BIF و GRF نیز در تهیه ادویه ولوازم طبی و عده همکار نموده که عنقریب ادویه ولوازم طبی آن در اختیار کلینیک قرار خواهد گرفت همچنان از طرف موسسه ما به مقداریکصدوهشتاد تن مواد غذایی آماده به هموطنان ماکه دراثر حملات هوایی امریکا آسیب دیده اند توزیع میگردد.ماز موسسات خیریه خارجی تقاضاداریم تا در شرایطی که مردم افغانستان به کمک های بشری نیاز بیشتر دارندبشتابند.

عزت

دامریکا دیرغل په وړاندی...

امارت مقام ته یی لیږلی دی دغه په ترڅ کی دافغانستان په مسلمان ملت باندی دامریکا دوحشیانه بریدونو دغندلو په ترڅ کی یی ښکارکړی دی چی دامریکا په مقابل کی دافغانستان دخلکو په مقدس جهاد کی همکار دی او ددغه هیواد یوشمیر ځوانان چی جهاد ته تیار دی خپل نومونه یی دامریکا یی سفارت ته ... په وړاندی دمقدس جهاد لپاره لیکلی دی.

لبنان:

دلبنان مسلمانو مذهبی مشرانو په بیروت کی دیوی غونډی په ترڅ کی په افغانستان باندی دامریکا پوځی بریدونه وغندل.

دلبنان مسلمانو مذهبی مشرانو ددغی غونډی په ترڅ کی دامریکا دولت تروریست وباله او په افغانستان باندی دبریدونو دبندیدو غوښتنه یی وکړه دلبنان د مذهبی مشرانو دغونډی په پریکړه لیک کی راغلی دی چی د بشر په تاریخ کی دجاپان دهیروشیما دپیښی ساری یو تروریستی اقدام و چی دامریکا له خوا ترسره شوی دی.

ددغی وینا له مخی په افغانستان باندی برغل هم یونوی تروریستی اقدام دی چی دزرگونو تنو بی گناه خلکو په وژنی به ختم شی.

فلپین:

دفلپین او تایلند دهیوادونو مسلمانو خلکو خپلو امریکا یی ضد پراخو مظاهرو ته دوام ورکړ.

دغه مظاهری په افغانستان باندی دامریکا او انگلستان پوځی بریدونو سره په اعتراض کی شوی.

دتایلند په مظاهروکی په سلگونو مسلمانانو برخه اخستی او دتایلند په پایتخت بنکاک کی دامریکا او انگلستان دسفارتونو په وړاندی خپل اعتراضیه لاریون ته دوام ورکړ.

یمن:

دیمن دپایتخت دصنعا خلکو هم په مظاهرو لاس پوری کړ او په افغانستان باندی یی دامریکا او انگلستان بریدونه وغندل داسپانیا په پایتخت مادرید کی هم تیره شپه دامریکا پرضد مظاهری شوی چی په هغو کی په زرگونو تنو گډون کړی و.

مظاهره کوونکو په افغانستان باندی دامریکا دبریدونو دبندیدو غوښتنه وکړه .

مالیزیا :

دایران داسلامی جمهوریت پاکستان اندونیزیا او مالیزیا په لسگونو زرو تنو مسلمانانو ددغو هیوادونو په بیلابیلو ښارونوکی مظاهری کړی او په افغانستان باندی یی دامریکا په بریدونو باندی اعتراض کړی دی مظاهره کوونکو دکراچی په ښار کی یو امریکا یی رستورانت سوځولی دی او له پولیسو سره یی نښتی کړی دی.

په دغو مظاهرو کی له افغانستان سره ملاتړ ښوول شوی دی او په افغانستان باندی یی دامریکا وحشیانه بریدونه غندلی.

کویټ:

په افغانستان باندی دامریکا یی رحمانه بریدونو داسلامی نړی دزیاترو هیوادونو دخلکو ولولی راپارولی دی .

درارسیدلو خبرونو له مخی په افغانستان باندی دامریکا دراکټی او هوایی بریدونو نه وروسته دخلیج په سیمه کی دزیاترو لویدیځو هیوادونو په اتباعو باندی برید شوی او وژل شوی دی.

دافغانستان په خاوره باندی دامریکا دبی رحمانه بریدونو په غبرگون کی په کویټ کی یوه ساحل ته نیږدی یوځوسله وال سړی یوکانادایی تبعه په ډزو سره ووژه په دغی پیښه کی دکانادایی تبعه میرمن هم په گولی ولگیده او سخته ټپی شوه .

خبروایی :بوالمانی تبعه په سعودی عربستان کی هغه وخت سخت ټپی شو چی یوبم دده لورته گوزارشو .

په اسلامی هیوادونو کی دلویدیځو هیوادونو په اتباعو باندی په داسی حال کی بریدونه زیات شوی دی چی زیاترو لویدیځو هیوادونو له خپلو اتباعو څخه غوښتی دی کله چی له خپل هیواد څخه بهر سفرکوی دځان ساتنه وکړی

اندونیزیا :

داندونیزیا مسلمانو خلکو دخلورمی پرله پسی ورځی لپاره ددغه هیواد په پایتخت جاکارتا کی خپلو امریکا یی ضدمظاهرو ته دوام ورکړ په مظاهروکی زیاتره داندونیزیا محصلانو گډون درلود او هغی په ترڅ کی یی داندونیزیا داستازو د شورا دودانی په وړاندی دامریکا بیرغ وسوځاوه .

داندونیزیا پولیسو ویل دامریکا پرضد په دغو مظاهروکی ددری زرو تنو په شاوخوا کی خلکو گډون کړی و چی په هغی کی ښځو او ماشومانو هم گډون درلود.

دغه مظاهری په افغانستان باندی دامریکا دوحشیانه بریدونو په اعتراض کی په لاره اچول شوی دی او لهځلوروورځو راپه دیخوا دوام لری.

کیپتاون :

په افغانستان باندی دامریکا او بریتانیا دبریدونو پرضد مظاهری دوام لری دجنوبی افریقا دکیپتاون په ښارکی له دریو زرو تنو څخه زیاتو خلکو ددغو بریدونو پرضد مارش وکړ.

په دغو مظاهروکی مسلمانانو مسیحیانو او دکارگری اتحاد یو غړو گډون کړی و او له لاریون څخه وروسته یی دکیپتاون په ښارکی دامریکا د متحده ایالاتو د قونسلگری په وړاندی غونډه وکړه او دغی قونسلگری ته یی پریکړه لیک وسپاره.

په دغه پریکړه لیک کی دامریکا له متحده ایالاتو څخه غوښتنه شوی چی خپل بریدونه په افغانستان باندی بندکړی.

پاریس:

دخبری منابعو دخبرله مخی دپاریس ښار په زرگونو تنو خلکو هم په مظاهرو لاس پوری کړ او دنړیوالی سولی په طرفداری او د جنگ غوښتونکو په ضد یی شعارونه ورکول په عراق کی هم دعربی هیوادونو په خاصه توگه دمصر فلسطین او سودان په زرگونو تنو خلکو مظاهری وکړی او په افغانستان باندی دامریکا او بریتانیا بریدونه یی وغندل.

روغتیا او ټولنه

د قلندري په زیار

کمبود آیودین

هرگاه جذب آیودین در وجود به حد کافی صورت نگیرد تشوشات کمبود آیودین رونمامیگردد که این حالت ناشی از کمبود مقدار کافی آیودین درخاک یا آب منطقه می باشد ضمناً موجودیت مواد تولید کننده جاغور(Goiterogen) نیز باعث اختلال اخذ آیودین در غذا میگردد . تشوشات کمبود آیودین در کشورهای آسیایی منجمله افغانستان و ممالک جنوب شرقی آسیا و دیگرمناطق جهان از پرابلم های جدی محسوب گردیده که منتج به پیدایش جانخور و کریتینم که یک مرض مزمن است میشود .

از کمبود آیودین بوده که با توقف رشد و نموی فزیکی و دماغی سوء تغذیه ،عظام و انساج رخ داده و پائین آمدن استقلاب آساسی متبارز میگردد و همین سبب اختلال قابلیت بار داری نزد خانمها و مرگ های Perinatalu میگردد کمبود آیودین سبب ناتوانی های فزیکی و ذهنی نیز گردیده که منجر به عدم توانائی پیشبرد فعالیت و کار نزد کاهلان وعدم توانائی اطفال در ساحه تعلیمی میگردد که این خود سبب کند نمودن پیشرفت اقتصاد می شود در بعضی مناطق حیوانات نیز ازین مرض متاثر میگردند

آیودین از جمله منرال های است که برای انسانها وحیوانات مهم می باشد و مقدار توصیه شده بین ۱۵۰ الی ۳۰۰ مایکروگرام می باشد که تقریباً یک قاشق چای خوری در حیات تخمین گردیده است آیودین درتشکیل هورمون های تایروکین غده تایرویید رول اساسی داردکه این هورمون برای استقلاب حجرات ضروری می باشد

شیوع مرض درمناطق کوهستانی وسیلابی جائیکه طبقه آیودین را از بین برده وخاک باقی مانده فاقد آیودین می باشد فوق العاده بلند است جنین ، زنان و اطفال اکثراً از عواقب غیر قابل بر گشت کمبود آیودین متاثر میگردند . فقدان شدید آیودین در رحم می تواند منجر به تخریب دماغ توام با تاخیر دماغی ناتوانی و معیوبیت های فزیکی از قبیل کری ، گنگ بودن ، قیچ بودن (،عدم توازن چشم) و تخریب عظام و انساج نرم میگردد .

مصرف روزانه نمک آیودین دار کمبود آیودین رادر غذاجبران نموده و ازتبارزجاغورودیگراختلا لات کمبود آیودین جلوگیری می کند .

موثر ترین طریقه اصلاح وجلوگیری کمبود آیودین در نمک طعام می باشد که همه مردم روزمره از آن استفاده می نماید .

همیشه در پخت و پز طعام از نمک آیودین دار استفاده نماییدو به حیوانات نیز نمک آیودین دار بدهید

د زیتون درملیزې ځانګړتیاوې

زیتون چې په زیاته اندازه د اي ، بي او سي ویټامینونه لري د بدني یا ځګر ډیر ملګري او د ټیر غوره درمـــل دي .

د اومو زیتونو خوړل د پښتورګو د ډبرې او د صفرا د له منځه وړلو او دصفرا دکڅوړې د تشولو او پړمنځلو سبب کیږي خو له همدې امله هغه چاته چې د پښتورګو ډبره ولري سپارښتنه کیږي چې له هرڅل ډوډۍ خوړلو نه وروسته یوه کاشوغه د زیتونو غوړي وخوري .

که څوک ورته د زیتون خوړل ګران او طبعه یې نه مني نو له سلاتې سره دي ګډ او بیا دي وخوړل شي ،په دغه ډول یې ګټه زیاتیږي ځکه له دغه کار سره له یوې خوا دصفرا کڅوړه په اسانۍ تشیږي او له بله پلوه دکولمو حرکت منظم او عادي کیږي .

پردې برسیره دزیتون غوړي دمعدې ترپووالي له منځه وړي او دمعدې تپ رغوي .

دغه راز دزیتون غوړي دسږو د ناروغیو د درملنې له پاره هم خورا ګټور دي

ددې له پاره چې دزیتون غوړي خراب نه شي هغه په یوه شیشه یي بوتل کې وساتې له استعمال وروسته دبوتل سرونږي او تیاره ځای کې یې کیږدې .

قلندري

نمکهای که کم خونی و ناراحتی های صحی را بر طرف میسازد

دانشمندان در تلاش آنند که یک نوع نمک آمیخته به آهن یود را در نقاط مختلف جهان در دسترس مصرف کنندگان آن قرار دهند تا کمبود این ماده را - که ناشی از نقص تصفیه نمک است بر طرف سازد مصرف این نوع نمک کمخونی وسایر نا راحتی های ناشی از کمبود آهن .یود را جبران خواهد کرد

کمخونی ناشی از کمبود آهن بدترین نوع کم خونی است و بیش از دو ملیارد نفراز نفوس جهان دچار آن هستند پائین بودن مقدار آهن درخون به سبب نقص تغذیه است و می تواند درقوای یاد گیری کودکان تاثیر بسیار نا مطلوبی داشته باشد ، زنان حامله و کودکان خردسال در برابر این نوع کم خونی بسیار آسیب پذیر اند .طوری که فعلاً سالانه بیش از دوصدوپنجاه هزار زن به علت کم خونی درهنگام ولادت می میرند . از سوی دیگر کمبود یود یکی از مشکلات تغذیه است و می تواند موجب بروز ناتوانی شدید عقلی، سقط جنین و مرده به دنیا آمدن نوزادگردد.

مدیر اجرائیه مرکز تحقیقات تغذیه در کانادا می گوید که نمک آمیخته با آهن یود در اکثر نقاط جهان به دسترس مصرف کنندگان آن قرار داده می شود تا مشکل و کمبود غذایی آنها را بر طرف سازد .

همکار

کمزورتیا دسرطان په ناروغۍ باندې داخته کیدو احتمال زیاتوي

دسرطان علمي مجله دامریکا په متحده ایالاتو کي خپریږي لیکي : هغه زیات عمر لرونکي کسان چې ډیر کمزوري وي دنورو په پرتله زیات دسرطان په ناروغۍ اخته کیږي او ددغې ناروغۍ له ګواښ سره مخامخ وي .

دغې مجلې په خپلې یو ی ګڼې کې دیوې مقالې په ترڅ کي لیکلي دي : ددې علت چې کمزورتیا دسرطان په ناروغی داخته کیدو احتمال زیاتوي ښایې داوي چې سترېیا دبدن ایمني فعالیتونه کمزوري کوي او دهغه دعمل ځنډ ګرځي او په نتیجه کې دبدن ایمني سلولونه نشي کولای دسرطان سلولونه تعقیب او ورسره مبارزه او جګړه وکړي.

مجله زیاتوي : دزیات عمر لرونکو کسانو تر منځ دسرطان درامنځته کیدو عوامل د نورو په پرتله زیات دي او دغه عوامل ددي سبب شوي دي چې دسرطان په ناروغي دزیات عمر لرونکي کسانو اندازه په سلو کي اتیا اتګل شي.

وحیده

پام ! د درملو معلومات صحیح نه دي

د اروپایي کمیسیون طبي منابع وايي: د درملو شرکتونه به د نویو درملو په باب زیات معلومات ورکړي . په اوس مهال کي مصرف کوونکي په بازار کي د نوو درملو په اړه ډیر معلومات نه لري . شرکتونه په عادي ډول د نوو درملو اعلان او نوي درمل معرفي کولو په وړاندې سخت قوانین پلي کوي . اوس داسې وړاندیز شوي چې په دغو قوانینو کي باید بدلون را وستل شي خو تنقید کوونکي وايي: د قوانینو نرمښت به شرکتونو ته فرصت ورکړي چې غلط اعلانونه وکړي

خبري منابع وايي :د نوي وړاندیز هدف مصرف کوونکو ته د نوو درملو په اړه زیات معلومات ورکول دي . اروپایي کمیسیون غواړي هغه پروسه باید چټکه شي چې شرکتونه یې پرمخه نوي درمل اروپایي بازارونو ته راوړي ، دنوي وړاندیز مانا دا نه ده چې د درملو په ساینسي معیار کي بدلون را وستل شي . کمیسیون اندیښنه لري چې د درملو په باب کوم معلومات چې په بازارکي شته‌هغه‌صحیح‌نه‌دي.

وړاندیز وايي چې شرکتونه باید د نویو درملو په هکله پر انترنت کي معلومات ورکړي : مجلې خپرې کړي او دا نوي قوانین په پام کې ونیسي خو تنقید کوونکي وايي چې شرکتونه به د نویو معلوماتو پرځای دخپلو درملو اعلانونه وکړي

هوش کنید که نخورید

اگر به درد مفاصل مصاب هستید کچالو نخورید .

اگر وســـــــواسی و مالیخولیایی هـــــستید زیادمرچ نخورید .

اگر تـــــکلیف بواسیر دارید مرچ سیاه نخورید

اگر گرده های تان ورم می کند گلپی نخورید .

اگر درمعده تان نفخ و باد است متر یا لوبیای سفید نخورید .

اگر خواب های آشفته می بینید لوبیا نخورید .

اگر از مریضی جگر رنج می برید بادنجان سیاه نخورید .

اگر درسن پیری خستگی جهاز هضمی وجسمی دارید لوبیا نخورید .

اگر بسیار چاق هستید انگور نخـــــــــورید .

اگربه صحـــــت تان علاقمندهستیدبدون مشو ره داکتر دوا نخورید

دمربا ګټې او دناروغیو درملنه .

که څیري مربا هره ورځ سهار په لږه اندازه له کوچو سره وخوړل شي زیاتي ګټې لري او په ژمي کي دتازه میوو ځاي نیولاي شي .

مربا هره یوه خانته خانته ګټې لري دمثال په ډول :

دزردالو مربا دوېنې کمښت له منځه وړي او دغه تشه ډکوي .

دبهي مربا دنس ناستي دناروغي دعلاج او درملنې له پاره په زړه پورې او خورا ګټور درمل دي .

دمالتې مربا دېنې ، معدې او کولمو له پاره ډیره ګټوره او ډیربنه درمل دي .

دګیلا سو او دمڼې مربا دهاضمې دجهاز او دمعدې د اختلال له منځه وړلو .او پیاوړي کولو کې ستر رول لري. په ژمي کي خامخا مربا وخوري په تېره بیا خپلو ماشومانو ته مربا ګاني برابري کړي او په هغوي یي وخوري چې تودوخه او لازمه انرژي تر لاسه کړي او هغوي د خوږي له خوړلو څخه چې ډیر زیان لري وژغوري .

وحیده

اعلانات

اتحادیه باربری افغان سلیمان زی ترانسپورت به سروالی عبدالروف فرزند خیرالله به فعالیت آغازنموده است علا قمندان مسبوق باشند .

×××

ریاست سیلوی مرکز تعمیر خبازی کوچک مکروریان اول ملکیت خویش را ماهانه قرار داد مینماید .

اشخاص و موساتیکه خواهش قرار داد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت عمومی خدمات ریاست سیلوی مرکز بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۴-۷- ۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرط نامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

×××

جمعیت هلال احمر افغانی تعداد هفتاد باب دکاکین ملکیت خویش واقع مندوی کابل را به کرایه میدهد .

اشخاص وموساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات ریاست پلان و احصائیه جمعیت هلال احمر افغانی واقع افشار بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۴-۷-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میـــــــــگردد .

×××

ریاست کلوپ یک باب مغازه ۱۲-عقب بلاک ۱۰۳ مکروریان را ماهانه برای مدت دوسال طور اجاره به کرایه میدهد.

اشخاص وموساتیکه خواهش قرار داد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست خریداری وزارت دفاع ملی واقع سرک دوم کلوله پشته جوار چهار راهی انصاری بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۴-۷-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرایط را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

جواز تجارتی ویا صنعتی ملاحظه میگردد .

×××

وزارت زراعت ومالداری زمین های ذیل را برای مدت یک سال به اجاره میدهد .

موازی بیست ونه جریب زمین فارم نمبر ۲ پیله وری .موازی نودوشش جریب زمین فارم نمبر۱ پیله وری .

موازی دونیم جریب زمین ساحه پروژه القاح مصـــــــــنوعی واقع دارالامـــان .

موازی نودوپنج جریب زمین فارم مالداری بینحـــــــــصار .

اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنرا طور اجاره داشته باشند درخواست های خویشرا به آمریت خدمات وزارت زراعت بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۶-۷-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

×××

به اطلاع شرف الدین فرزند غلام سرور وعبدالحمید فرزند محمد طاهر میرساند تا غرض حل وفصل دعوی مستوفیت ولایت کابل از تاریخ ۲۶-۷-۱۴۲۲ تا دو ماه بریاست دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شوند درغیر آن فیصله غیابی بالایشان صادر و آنگاه حق شــــــــکایت را نخــــــــــواهند داشـــــــت .

دوخت نمرود

هاشمی

بیا کوم دیــود زمانی په غږمبا سردی
ټول جهان چی وار خطا پــه شــور وشــر دی
کوم فرعون بیا لـــوی رب ځـــان ته ویلی
بـــیا مـــوســـی ورته ولاړ پــه کوم ډگر دی
بیا نمرود دزمـــانـــی او رونـــه بـــل کـړل
ټول ملت دابـــراهـــیم وربـــرابـــردی
بیـــا وحشـــی ظـالم دخولی ځگونه باسی
دجالوت پـــه شان جـــوړ کړی نی لښکر دی
لاروبان دابـــوجـــهل راټـــول شـــوی
نـــښه کـــړی یـــی امت دپاک سرور دی
بیا نـــاری دتـــکبیر ونو انـــگازی کـــا
طـــاغوتیـــان چـــی لـړزوی الله اکبر دی
عـــلماو دجـــهاد فتـــواوی ورکـــړی
دغـــزا دډول او ازپـــه لـــړو بـــر دی
خپله پاکه خـــاوره ســـاتـــو له غـــلیمه
شـــهادت تـه ارزومـــند هـــر یـــو نفر دی
یـــا الـــلـــه ته نی حـــافظ او نگهبان شی
اســـلامی افـــغانســـتان ته بیا خطر دی
«هاشمی» که خدای کول نو شـــی بـه روی ته
«رودنیل» افغانســـتـــان دامـــی باور دی

عکسونه : داهم دکابل نړیوال هوايي ډگرته څېرمه دامریکا او برتانیې د هوايي بریدونو سوغات
دیوسف : عکاسی

په نوره نړۍ کی
پېښې او بدلونونه

صدای المان:

مقامات قضائی رژیم صهیونستی اتهامات وارده به صدراعظم ان رژیم را تحت بررسی قرار داده که طی آن گفته میشود که صدراعظم آن رژیم درمبارزات انتخاباتی خوددرآغاز سال جاری ازصندوق های اعانه انکشور استفاده ناجایز وغیر قانونی نموده است.

وسایل ارتباط جمعی رژیم صهیونستی گزارش داده است که به پسر اریل شارون صدراعظم رژیم صهیونستی ویکی از وکلای سترہ محکمه انکشورنیزچنین اتهاماتی واردشده وقراراست تحت تحقیق وبازجویی قرارگیرند.

بیت المقدس :

نظامیان اشغالگررژیم صهیونستی به یک منطقه مسکونی درشمال بیت المقدس بطوربی شرمانه ووحشیانه حمله نمودند .

نظامیان صهیونستی طی این حمله وحشیانه چندین نفر فلسطینی را به اتهام شرکت در عملیات ضد صهیونستی بازداشت نمودند.

قراریک خبر دیگر مبارزین مسلمان فلسطین یک پایگاه نظامی اشغالگران صهیونستی را درساحل غربی روداردن مورد حمله قراردادند.

درنتیجه این حمله یک اشغالگر صهیونستی مجروح گردید وپایگاه نظامی اشغالگران نیز خساره مند گردید.

تهران:

دایران هیواد په دغه هیوادکی دملگروملتونو دسازمان دبشردحقوقو څخه دتیری په باب نوی رپوټ په کلکه رد کړ.

دایران دبهرنیوچارو وزارت یو ویندوی وویل :دغه رپوټونه دتکراری تورونو لړونکی او غیر واقعی دی چی په ایران کی له موجوده واقعیتونو سره په بشپړه توگه مغایرت لری.

دهٔ وویل : له دغورپوټونوڅخه هدف ایران ته تاوان رسول دی.

جهادی قوماندان....

جهادی قوماندانانو دخپلو خبرو په ترځ کی دافغانستان په مقدس خاوره باندی دامریکا او انگلیس وحشـیانه بریدونه وغندل او په ټـــینگه ئی وویل چی ددوی شوه هدفونه او پلانونه څرگند کړل او وی ویل : په افغانستان باندی برید دامریکا او دغه دلویدیځو پلویانو جگړه داسلامی نړی پرضد ده دوی غواړی داسلامه په نامه په سیمه اونړی کی خپل سیاسی او پوځی هدفونه عملی کړی.

دامریکا او انگلستان دغه بریدونه بوازی دافـــغانســتان خلکو ته متوجه ندی بلکی نړیوال استکبار غواړی له تروریزم سره دمبارزی په پلمه په سیمه کی خپلی پراختیا غوښتنی اوشوم اهداف عملی کړی او دمنځنی آسیا دهیوادونو ضیعی زیرمی ترلاسه کړی.

وینا والو زیاته کړه : دامریکا او دغه دمتحدینو هوایی او راکټی وحشیانه بریدونه دسیمی سوله له خطر سره مخامخ کړی او هغه وخت رارسیدلی دی څو دنړی ټول اسلامی هـــیوادونه او مـــسلمـــانان دافغانستان دخلکو له مقدس جهاد سره یوځای اومتحد شی او په گډه او یو دلاس سره له خپلو اسلامی ارزښتونو څخه دفاع وکړی.

از اثر پرتاب یک بم...

شرح این حادثه راازدرون حویلی بم فرورریخته چنین باز گونمود:

حوالی ساعت ۲/۳۰ دقیقه شب بود، دقایقیکه جت های بم افگن امریکا درفضای کابل مشغول بم ریزی بودند یك بم ۲٤۰۰ کیلویی بالای منزل «دادخدا» که دراخیر همین کوچه قراردارد اثابت نمود . البته از اثر انفجار این بم یك دختر پانزده ساله شهیدو به شمول مادر این دختر دوطفل دیگرنیزشدیداً مجروح گردیدند.

یك باشنده دیگر این کوچه که خودرا نورالدین معرفی داشت گفت:

درگذر دوسرکه میدان هوایی کابل تقریباً ۶۰۰ خانواده نیازمند وبی بضاعت زندگی دارند که اکثریت آنان را مهاجرین شمالی تشکیل میدهد؛ اما امروز شما میبینید که بیشتراین خانواده هامنطقه را ا زبیم حملات بعدی ترك مینمایند.

زن ٤۰ ساله ایکه شوهرش را در جنگهای ده سال قبل کابل از دست داده وبه گفته خودش مسوولیت نفقه چهار طفل بدوشش می باشد خودرا کریمه مسکونه ولایت بدخشان معرفی کرد. .حینیکه کریمه در جمع دیگران از این کوچه وحشت زده در حال گریز بود از وی پرسیدم همین حالا شما با چهار طفل تان کجا میروید؟

اوگفت: شوهرندارم .خانه ام را امشب امریکا ویران کـرد، برم هیچ چیـز نماند،میرم ده بازار،مجبور هستم که خیرات طلب کنم ،دگه چاره ندارم.

از کریمه پرسیدم : برای آنانیکه امشب بالای خانه شماودیگران بم ریختند چه گفتنی داری؟ وی درحالیکه گلویش سخت عقده کرده بود گفت : خداوند امریکا ره ده غضب خود گرفتار کنه ، خداوند امریکاره تباه وبرباد کنه ، امریکا ماره امشب دربدر وخاك ... وهمینجابود که اشك از چشمانش سرازیر شد ودیگر هیچ گفتـه نتوانست و بیحرکت افتادبه حرکتی که معلوم نبود به کجامیرود وباچهار طفل اش درکجا پناه میبرد. کریمه پاهایش را پریشان- پریشان به زمین انداخت و رفت.

از محمد صادق مرد میانه سالیکه حویلی چهار اطاقه اش را همین بم کاملاً به خاك یکسان نموده بود پرسیدم شما چرا تاحال درینجا باقی مانده بودید آیا از اعلامیه های رادیو هاخبر نشدید که گفته بودند باید مردم ملکی از محلات نظامی فاصله بگیرند ؟

نامبرده بی اراده دستش را به دست دیگرش زده گفت، از برای خدا کجابریم ؟

چه قسم بریم ؟ ماکه نان خوردن شب خوده نداریم چطور میتوانیم از یك جا به جای دیکر کوچ کنیم. باز خانه ما از خط میدان تقریباً ۵۰۰ متر فاصله داره ما اصلاً به این فکرنبودیم که امریکا بالای خانه های مردم بی گناه هم بم میریزد.

وسرانجام محمد نادرجوان ۲۵ ساله درحالیکه ریش و موهای انبوه اش را گردو خاك بم مثل آسیابان سفید ساخته بود از درون یك اطاق بی دستك و دیوار صدا کشیدصدائیکه درآن تصامیم و اراده اش متجلی بود چنین گفت :مه انتقام ویرانی خانه خوده از امریکا ده جنگ مستقیم باآنها خادگرفتم.

مهربان

پرافغانستان باندي...

دروسیی او دمنځنی آسیا دمسلمانانو له اعتراض سره مخامخ شوی دی.

دیو بل خبر له مخی؛ دآسیا دجنوب ختیځ هیوادونو په زرگونو تنو خلکو په مظاهرو لاس پوری کړاو دافغانستان په مظلوم ملت باندی دی دامریکا او بریتانیا بریدونه . وغندل او ددغو بریدونو ددیرژر بندیدوغوښتنه یی وکړه .

دخبری منابعو دخبرله مخی دمالیزیا په زرگونو تنو خلکو دکوالالمپور په ښارکی دامریکا دسفارت په وړاندی مظاهری وکړی او ددغـو بریدونو دبندید و غوښتنه یی وکړه .

کابل باز هم....

امریکا یی و انگلیسی درطول شب گذشته نیز درچندین نوبت برخی از مناطق شـهرکابل را موردحملات وحشیانه راکتی وهوایی خویش قرارداده که از اثرآن تعداد ی از هموطنان بی گناه ما در مربوطات شـهرکابل زخمی گردیده اند.

از اثرحملات وحشیانه دیشب دربرج هوتل کوه تلویزیون شیشه ها و کلکین های منازلی کی دردامنه قول آبچکان وساحه مارکیت سرای شمالی موقعیت داشت اکثراً تخریب واز بین رفته است،همچنان تعداد منازلی که در اطراف میدان هوایی موقعیت دارند تخریب گردیده است.

په آلمان کي ۶۰...

په پایتخت برلین کی پراخی اعتراضیه مظاهری وشوی له بله پلوه په لندن کی داتومی بی وسلی کـولو دټولنی پلویانو هم په افغانستان باندی دامریکا او انگلستان له پوځی تیری سره دمخالفت په اړوند دپراخو مظاهرو غوښتنه کړیده.

لری او دغه بحران ته چی سیمه مانی لمن وهی امریکا ته به خراب عواقب ولری.

دغه راز د مظاهرو په پریکړه لیک کی ویل شویدی چی په افغانستان باندی دامریکا دوحشیانه برید هدف دنړی پوځی کول، دنړی تورو سیمو ته دامریکا دکورنی بحران لیږدول او دمرکزی آسیا اوخلیج په اقتصادی منابعو باندی لاس بری دی.

دایران مظاهره ...

شویدی :امریکا داسرائیلو د صهیونیستی رژیم له دولتی تروریزم څخه دملاتړ په دلیل له تروریزم سره دنړیوالی مبارزی واک نه

مرگ په امریکا ،مرگ په انگلستان او مرگ داسرائیلو په صهیونیست رژیم،دامریکا پرخلاف دایران دیرونیو مظاهرو اصلی شعارونه و .

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید